Diwan
International Scientific and Research Journal
مجله علمی تحقیقی بین‌المللی دیوان
ISSN: 2706-6428 / E-ISSN: 2707-7462

247-268 : Pages / صفحات ،2026 :Year / سال ،2 :Issue / شماره ،7 :Vol / جلد ISSN: 2706-6428 E-ISSN: 2707-7462

# په اسلامي فقه کې د بیمې او تکافل حکم

# حکم التأمين والتكافل في الفقه الاسلامي

# The Ruling on Insurance and Takaful in Islamic Jurisprudence

# İslâm Fıkhında Sigorta ve Tekâfülün Hükmü

محمد بصیر صدیقی[1]

**لنډیز**

په اسلامي فقه کې د بیمې (Insurance) او تکافل (Takaful) حکم د معاصر مالي معاملو له مهمو او بحث انګیزو موضوعاتو څخه دی، بیمه یو اقتصادي تړون دی چې پکې یو شخص د احتمالي مالي زیان پر وړاندې ځان تضمینوي، خو دا معامله باید د اسلامي اصولو مطابق وي؛ تکافل بیا یو اسلامي بدیل دی چې د شراکت، همکارۍ او د زیان شریکولو پر اساس ولاړ دی. د دې څېړنې موخه داده چې د بیمې مختلف ډولونه وپېژندل شي (تجارتي، تولنیزه، روغتیایي، وغیره). دا ارزول شي چې آیا دا ډول تړونونه د اسلامي فقه له نظره جایز دي که نه؟ او تکافل د یوه مشروع اسلامي بدیل په توګه معرفي شي. د بیمې تړونونه په معاصرو ټولنو کې ډېر مهم رول لري، نو دا معلومول ډېر اړین دي چې د اسلام له نظره څه حیثیت لري، مسلمانان غواړي د مالي خوندیتوب لپاره داسې لارې غوره کړي چې د شریعت مطابق وي او د اسلامي مالي سیستم پراختیا سبب وګرځي. نوموړې موضوع یوه کتابتوني موضوع ده، د موضوع د ثبوت لپاره د قرآن الکریم آیتونه او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم احادیث ذکر شوي دي، د آیتونو ژباړه او د فقهي کتابو حوالې د معتمدو فقهي مراجعو څخه راخیستل شوي دي. بیمه د ډېرو فقهاؤ د سود، غرر او قمار له امله ناروا ګڼي، تکافل د اسلامي اصولو پر بنسټ یو مشروع بدیل ګڼل کېږي، د معاصرو فقهي شوراګانو لکه د اسلامي فقهي اکاډیمي او د اسلامي بانکدارۍ ادارو لخوا تکافل تائید شوی؛ مسلمان بانکونه او مالي اداري کولی شي د تکافل سیستم له لارې خدمات وړاندې کړي.

**کلیدي کلمات:** بیمه، تکافل، تجارت، خمار، سود

DOI:
https://doi.org/10.69892/diwan.2026.220

Research Article / مقاله تحقیقی
Received Date / تاریخ دریافت
31.08.2025
Accepted Date / تاریخ قبول
19.10.2025
Publication Date / تاریخ نشر
28.07.2026

[1] پوهنیار، دیپارتمنت ثقافت اسلامی، پوهنځی شرعیات، پوهنتون کندهار، کندهار، افغانستان.

ORCID
0009-0001-9529-9919

E-Mail
basirkhan2214090@gmail.com

این مقاله توسط نرم افزار تورنیتین Turnitin بررسی شده Plagiarism یا سرقت ادبی تثبیت نگردید.
This article has been scanned by Turnitin. No Plagiarism detected.

CC BY NC

**نحوۀ ارجاع دهی از این مقاله در پاورقی / Citation :**

محمد بصیر صدیقی، "په اسلامي فقه کې د بیمې او تکافل حکم"، *مجله دیوان* ۲/۷ (سرطان ۱۴۰۵)، ۲۴۷-۲۶۸.

Muhammad Basir Saddiqi, "The Ruling on Insurance and Takaful in Islamic Jurisprudence", *Diwan Journal* 7/2 (July 2026), 247-268.

**الملخص**

يُعدّ حكم التأمين والتكافل في الفقه الإسلامي من أهمّ المواضيع وأكثرها إثارةً للجدل في المعاملات المالية المعاصرة. التأمين عقدٌ اقتصاديّ يؤمّن فيه الشخص نفسه ضدّ خسارة مالية محتملة، ولكن يجب أن يكون هذا التعامل متوافقًا مع المبادئ الإسلامية. التكافل بديلٌ إسلاميّ قائمٌ على الشراكة والتعاون وتقاسم الخسائر. تهدف هذه الدراسة إلى: تحديد أنواع التأمين المختلفة (التجاري، والاجتماعي، والصحي، وغيرها). تقييم مدى جواز هذه العقود من منظور الفقه الإسلامي، وتقديم التكافل كبديل إسلامي شرعي. تلعب عقود التأمين دوراً بالغ الأهمية في المجتمعات المعاصرة، لذا من المهمّ جدًّا تحديد وضعها من منظور الإسلام. يرغب المسلمون في اختيار سُبُل لتوفير الأمن الماليّ تتوافق مع الشريعة الإسلامية وتؤدي إلى تطوير النظام الماليّ الإسلاميّ. هذا الموضوع موضوعٌ ببليوغرافيّ. لإثبات هذا الموضوع، تمّ الاستناد إلى آياتٍ من القرآن الكريم وأحاديث النبيّ محمد (صلى الله عليه وسلم). استُقيت ترجمة الآيات والمراجع الفقهية من كتب فقهية موثوقة. يرى كثير من الفقهاء أن التأمين محرم لما فيه من الربا والغرر والقمار. ويُعتبر التكافل بديلاً شرعيًا قائمًا على المبادئ الإسلامية. وقد أقرت هيئات فقهية معاصرة، مثل مجمع الفقه الإسلامي، والمؤسسات المصرفية الإسلامية، التكافل. ويمكن للمسلمين والبنوك والمؤسسات المالية تقديم خدماتهم من خلال نظام التكافل.

**الكلمات المفتاحية:** التأمين، التكافل، التجارة، القمار، الربا.

**Abstract**

In Islamic jurisprudence, the ruling on insurance and takaful is one of the most important and controversial topics in contemporary financial transactions. Insurance is an economic contract in which a person insures himself against possible financial loss, but this transaction must be in accordance with Islamic principles. Takaful is an Islamic alternative based on partnership, cooperation, and sharing of losses. The purpose of this study is to: Identify different types of insurance (commercial, social, health, etc.). To assess whether such contracts are permissible from the perspective of Islamic jurisprudence or not? And to introduce takaful as a legitimate Islamic alternative. Insurance contracts play a very important role in contemporary societies, so it is very important to determine what their status is from the perspective of Islam. Muslims want to choose ways to provide financial security that are in accordance with Sharia and lead to the development of the Islamic financial system. This topic is a bibliographic topic. To prove the topic, verses of the Holy Quran and hadiths of the Prophet Muhammad

(peace be upon him) have been mentioned. The translations of the verses and references to jurisprudential books have been taken from reliable jurisprudential authorities. Insurance is considered illegal by many jurists due to interest, gharar, and gambling. Takaful is considered a legitimate alternative based on Islamic principles. Takaful has been approved by contemporary jurisprudential councils such as the Academy of Islamic Jurisprudence and Islamic banking institutions. Muslims, banks, and financial institutions can provide services through the Takaful system.

**Keywords:** Insurance, Takaful, Trade, Alcohol, Interest

**Özet**

İslâm fıkhında sigorta (Insurance) ve tekâfülün (Takaful) hükmü, çağdaş mali işlemler arasında önemli ve tartışmalı konulardan biridir. Sigorta, bir kişinin muhtemel mali zararlara karşı kendisini güvence altına aldığı ekonomik bir sözleşmedir; ancak bu işlemin İslâmî ilkelere uygun olması gerekmektedir. Tekâfül ise ortaklık, yardımlaşma ve zararın paylaşılması esasına dayanan İslâmî bir alternatif sistemdir. Bu araştırmanın amacı; sigortanın farklı türlerini (ticari, sosyal, sağlık vb.) tanıtmak, bu tür sözleşmelerin İslâm fıkhı açısından caiz olup olmadığını değerlendirmek ve tekâfülü meşru bir İslâmî alternatif olarak ortaya koymaktır. Sigorta sözleşmeleri çağdaş toplumlarda önemli bir rol oynadığından, İslâm açısından hukuki statüsünün belirlenmesi büyük önem taşımaktadır. Müslümanlar, mali güvenliği sağlamak için şeriata uygun yolları tercih etmekte ve bu durum İslâmî finans sisteminin gelişimine katkı sağlamaktadır. Bu çalışma kütüphane araştırmasına dayalıdır. Konunun temellendirilmesinde Kur'ân-ı Kerîm ayetleri ve Hz. Peygamber'in (s.a.v.) hadisleri zikredilmiş; ayetlerin tercümeleri ve fıkhî kaynaklara yapılan atıflar güvenilir fıkıh referanslarından alınmıştır. Birçok fakih, sigortayı faiz (riba), belirsizlik (garar) ve kumar (kımar) unsurlarını içermesi sebebiyle caiz görmemektedir. Buna karşılık tekâfül, İslâmî ilkeler doğrultusunda meşru bir alternatif olarak kabul edilmekte; İslâm Fıkıh Akademisi ve İslâmî bankacılık kuruluşları gibi çağdaş fıkhî kurullar tarafından da onaylanmaktadır. Müslüman bireyler, bankalar ve mali kurumlar tekâfül sistemi aracılığıyla hizmet sunabilmektedir.

**Anahtar Kelimeler:** Sigorta, Tekâfül, Ticaret, Kumar, Faiz

**سریزه**

بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين وعلى آله واصحابه اجمعين، اما بعد قال الله تبارك وتعالى: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ﴾[1] *ژباړه: "ای خلکو په ځمکه کښې چې کوم حلال او پاک شيان دي هغه خورئ او د شيطان په ښودل شويو لار باندې مه ځئ، هغه ستاسی ښکاره دښمن دی".*

الله پاک موږ ته په اسلامي شريعت کې د حلال رزق ګټلو ترغيب کوي او کوم کسان چې کار او کسب کوي او خپل اهل او عيال ته حلاله نفقه وړي، د هغو کسانو ستاينه کوی؛ الله پاک د قرآن مجيد په ډېرو مبارکو آيتونو کې د حلال رزق ګټلو حکم کړی دی؛ د دې تر څنګ د رسول صلى‌الله عليه وسلم په سپېڅلو ويناوو کې داسي ډېر اوامر وينو چې د رزق حلال ګټلو لارښونه کوي او د حرام مال ګټلو څخه په کلکه راګرځوي او هغه ټولي لارې ردوي چې په هغه سره حرام مال ګټل کيږي، ځکه چې هغه د جهنم د داخلېدو سبب ګرځي؛ بل اړخ ته الله پاک په دين کې د مسلمانانو ترمنځ د خپل منځي تعاون او مرستي امر کوي، چې په دې کې حلال مال ګټل، له نورو سره مالي مرسته کول، عام المنفعه او ټولنيز شرکتونه جوړول د تعاون او مرستې اساسي اړخونه جوړوي، تر څو انسان د هغه په عملي کولو سره د اطمينان او سکون له ډک ژوند څخه برخمن شي، پورتني آيت ته په کتو سره الله پاک موږ ته حلال رزق ګټلو حکم او حرامو څخه د ځان ساتني امر کړی دی، په دې ليکنه کې د بيمې او د تکافل پر ټولو صورتونو باندې د حلت او حرمت احکام د دلايلو په رڼا کې بيان شوي دي، چې لوستونکي ته به د بيمې او تکافل حکمونه په آسانه توګه په ګوته شي، تر څو په حلاله طريقه مال وګټي او د حرامې طريقې څخه ځان وساتي.

د نوموړې موضوع د څېړنې څخه هدف دا دی چې هغه لارې چارې چې هغه د حرام مال د ګټلو سبب ګرځي د هغه مخنيوی وشي؛ تر څو يوه داسې حل لاره راويستل شي چې د حرام پر ځای د حلالې لارې څخه ګټه واخيستل شي، چې هغه حلاله لاره يې تکافل ده چې د علماوو په اجماع سره دا د بيمې متبادل لاره شوه، چې خلګ بايد د تکافل طريقه کار څخه ګټه واخلي.

دا يوه ډېره مهمه موضوع ده چې خلګو ته د دې موضوع اړوند معلومات وشي، ځکه چې په خارج هيوادو کې د بيمې ډېري اداري وجود لري چې د هغو معاملات پر سود خمار او دوکه باندې ولاړ دی، چې دا ټول غير شرعي طريقه کار دی.

پوښتنې: بيمه څه شي ته وايي؟، د بيمې او تکافل ترمنځ توپير څه شی دی؟، د بيمې او تکافل اړوند د حلت او حرمت احکام څه دي؟

---

[1] البقرة ۱۶۸/۲

که چیري د تکافل د لاندې طریقه‌کار څخه کار واخلي نو هم به یې خپل مالونه محفوظ وي او اخروي مسؤولیت نه وي ورته راجع، څکه چې د حرامې لارې پر ځای یې د حلالې طریقې څخه ګټه واخیستل.

اسلامي فقه کې د "بیمې" (Insurance) او "تکافل" (Takaful) د حکم په اړه فقهاوو له اوږدې مودې راهیسې بحثونه کړي او دا موضوع د معاصر اسلامي اقتصاد یوه مهمه برخه ګڼل کېږي. تر څو دقیق درک ولرو، همدارنګه دا مهمه ده چې لومړی د بیمې او تکافل د احکامو اړوند تیرو اثارو ته کتنه وکړو، د بیمې او تکافل اړوند لاندې کتابونه لیکل شوي دي:

الفقه الاسلامي و ادلته. لیکوال: وَهْبَة بن مصطفى الزُّحَيْلِيّ.، موسوعة الفقه الإسلامي. لیکوال: محمد بن ابراهیم التویجري. او داسې نور کتابونه او څېړنې ترسره شوي دي.

د څېړنې لپاره مو دا موضوع په دې خاطر انتخاب کړل چې له پلټنې وروسته په پښتو ژبه کې داسې څېړنه چې د بیمې او تکافل دواړو احکام پکښې بیان شوي وي، تر سترګو نه شوه.

بل دا چې دا څېړنه ډېر په اختصار سره لیکل شوې ده، چې د استادانو، محصلینو او د عوامو د فهم او مطالعې لپاره ډېره آسانه ده.

نوموړې موضوع یوه کتابتوني موضوع ده، د موضوع د ثبوت لپاره د قرآن الکریم آیتونه او د نبي کریم صلی‌الله علیه وسلم احادیث ذکر شوي دي، د آیتونو ژباړه د مرحوم مولانا قیام الدین کشاف رحمه‌الله د قرآن الکریم د لفظي ژباړې څخه راخیستل شوي، همدارنګه د فقهي کتابونو حوالې د معتمدو او مستندو فقهي کتابو څخه راخیستل شوي دي، د نوموړې موضوع د وضاحت لپاره د معتمدو علماوو او فقهاوو اقوال او فتواوې راخیستل شوي دي، او دا کوښښ پکښې شوی دی چې تر څو په ډېره اسانۍ سره موضوع تحلیل شي.

**۱. د مفهوم پېژندنه**

**۱.۱. د بیمې تاریخي شالید**

د بیمې په اړه دا مشهوره ده چې د دې ابتداء په څوارلسمه میلادي پیړۍ کې وشو، هغه وخت د دې شروع په سمندري کښتیو سره تر سره شو، چې کله تجارانو خپل مالونه د کښتیو په واسطه سره د یوه ځای څخه بل ځای ته وړل، کله کله به کښتۍ ډوبه شوه او یا هم د غلو په لاسو به وشکول سوه، نو د تجارانو به ډېر تاوانونه وشول، له همدې وجهې د بیمې ابتداء او لړۍ پیل شوه، د علامه شامي رحمه‌الله په وخت کې هم د بیمې طریقه موجوده وه، چې هغه ئې طریقه په تفصیل سره په خپل کتاب (ردالمحتار) کې ذکر کړې ده.

**۱ .۲. د بیمې پېژندنه**

بیمه په عربي کې د (التأمین) او یا هم د (السوکرة) په نامه سره مشهوره او په انګریزي د انشورنس (Insurance) په نامه سره شهرت لرې، د اصطلاحي تعریف په اړه يې محمد بن ابراهیم په خپل کتاب (موسوعة الفقه الاسلامي) کې داسي فرمايي: «التأمين التجاري: وهو عقد يُلزَم فيه المؤمِّن أن يدفع للمؤمَّن له عوضاً مادياً يُتفق عليه عند وقوع خطر أو خسارة، مقابل رسم مالي يؤديه المؤمَّن له».[2] *ژباړه: "بیمه دې ته وایي چې انسان ته په راتلونکې کې د کوم حادثاتو او یا هم خطراتو سره مخامخ کېږي، په دې حادثاتو کې چې کوم تاوانونه راځي د هغه تاوانونو يو کس او یا هم يوه اداره د دې ضمانت واخلي، چې تاته کوم تاوانونه په راتلونکې کې پېښېږي زه د هغه ضامن يم، دې ته بیمه وايي، د بیمې (انشورنس) په نامه سره ډېرې اداري په خارج کې وجود لري".*

علامه شامي رحمه‌الله يي په خپل کتاب (ردالمحتار) کې داسي ذکر کوي: «وهو أنه جرت العادة أن التجار إذا استأجروا مركبا من حربي يدفعون له أجرته، ويدفعون أيضا مالا معلوما لرجل حربي مقيم في بلاده، يسمى ذلك المال: سوكرة على أنه مهما هلك من المال الذي في المركب بحرق أو غرق أو نهب أو غيره، فذلك الرجل ضامن له بمقابلة ما يأخذه منهم»[3] *ژباړه: "د تجارانو عادت همداسي وو، چې کله به دوی کښتي د حربي شخه په کرایه نیوله او هغو ته ئي کرایه ورکوله، له دې سره به يو څه معیني پیسې به ئي نوري ورکولې يوه حربي ته چې د دوی په وطن کې اوسېدئ، دغه پیسو ته سوکرة ویل کېده، هغه ئي په دې خاطر اخیستلې چې کله دغه د تجارت مال هلاک سي په سوځېدلو سره، یا په ډوبېدو سره او یا هم په بل شي سره، نو دا کس د هغه مال ضامن دی، د هغه پیسو په مقابل کې کوم چې ده اخیستي دئ".*

د بیمه دا طریقه د امام شامي رحمه‌الله په وخت کې هم مشهوره وه، چې هغه وخت مالونه په کښتیو کې وړل کېدل، نو د دې سره دا خطر تړلې وو، چې دغه د تجارت مال به ډوب سي یا به وسوځي، نو د دې د وجهي به ئي يو کس ته پیسې ورکولې د کرائې شخه ماسېوا، که چېرې دا مال هلاک سي نو هغه ئي ضامن دئ، د ټول مال تاوان به ورکوي.

**۲. د بیمې ډولونه:** بیمه پر دوه ډوله ده: عمومي بیمه (General Insurance) او د ژوند بیمه (Life Insurance)

**۱ .۲. عمومي یا عامه بیمه**

چې (جنرل) بیمه ورته وايي: چې يو کس خپل د تجارت د سامان بیمه وکړي او کارخاني ته د میاشتي په حساب سره يو څو معیني پیسې ورکوي، چې په عربي کې دې پیسو ته (قسط) وايي او

---

[2] محمد بن ابراهيم التويجري، *موسوعة الفقه الإسلامي* (الجزاير: بيت الأفكار الدولية، ۱۴۳۰هـ ق)، ۴۴۷/۳.

[3] محمد أمين بن عمر الحنفي ابن عابدين، *ردالمحتار على الدرالمختار* (بيروت: دارالفكر، ۱۴۱۲هـ ق)، ۱۷۰/۴.

انګرېزي کې (Premium) پریمیم ورته وايي؛ که چېرې دا د تجارت سامان په یوه خطره کې هلاک شي، نو هغه کارخانه یا ضامن د دې تاوان مالک ته اداکوي او که چېرې دا سامان هلاک نه شي، نو کومې پیسې چې بیمه کونکې جمع کړې دي، کارخانه هغه پیسې بیرته بیمه کونکې ته نه ورکوي؛ بلکه هغه د ځان سره ایږدي، دې ته جنرل بیمه وايي، چې په عرف کې په عام بیمه، یا په عامه بیمه سره مشهوره ده، علامه زحیلي رحمه‌الله د بیمه اړوند خپل کتاب کې فقه الاسلامي کې داسې فرمائي: «تأمين الأضرار: وهو يتناول المخاطر التي تؤثر في ذمة المؤمَّن له، لتعويضه عن الخسارة التي تلحقه.(الى ان قال) والتأمين على الأشياء: وهو تعويض المؤمَّن له عن الخسارة التي تلحقه في ماله، بسبب السرقة أو الحريق أو الفيضان او الآفات الزراعية ونحو ذلك».[4] *ژباړه: "د تاوانونو بیمه: دا هغه بیمه ده چې راتلونکې خطرونه معامله کوي د بیمې د کارخانې له مسؤل سره، د هغه تاوان په مقابل کې چې د ته راتلونکي دئ ....... او دا بیمه د څو شیانو له پاره کېږي: کارخانې ته پیسې ورکول د تاوان په بدل کې چې د ده په مال کې راتلونکې دی، هغه بیمه که د غلا کېدو، سوځېدو، سېلاب او د زراعت د آفت په صورت کې وي او داسې نور".*

دغه عام بیمه (انشورنس) په ځان کې پر درې ډوله ده:

**۲.۱.۱. بحري بیمه**

د بحري بیمه په اړه خو موږ وویل چې دا هغه بیمه ده چې د سمندر له لارې کېږي، چې هغه ته بحري بیمه هم وايي.

**۲.۱.۲. د اور بیمه**

د اور بیمه دې ته وايي چې د اور لګېدو په صورت کې یا د تجارتي سامان د سوځېدو په صورت کې چې کوم تاوان راځي د هغه تاوان د راګرځولو له پاره دا بیمه کېږي، دې ته د اور بیمه وايي.

**۲.۱.۳. د وسایلو بیمه**

دې ته وايي چې یو کس خپل د موټر هغه که غټ وي او کوچنی او یا هم د طیارې او داسې نور بیمه وکړي، که چېرې دوی ته کومه حادثه پېښه سوه او یا هم د ټکر په صورت کې تاوان ورته ورسېد، نو د دې تاوان د راګرځولو له پاره دا بیمه کېږي، دې ته د وسایلو بیمه وايي.[5]

**۲.۲. د ژوند بیمه**

د ژوند بیمه یعني (Life Insurance) دې ته وايي چې یو کس د بیمې کارخانې سره دا معامله وکړي چې زه تاته میاشتوار قسطونه اداء کوم تر یو معین وخت پورې، په دې شرط سره چې په راتلونکې کې ماته کوم جسماني خطرات پېښېږي، د هغه مصارف ستا په غاړه دي، که چېرې په

---

[4] وَهْبَة بن مصطفى الزُّحَيْلِيّ، *الفقه الاسلامي و ادلته* (سوریه: دارالفکر، دمشق الطبعة الثانیه عشر)، ۳۴۲۱/۵.

[5] عصمت الله، *تکافل کې شرعي حیثیت* (کراچي: ادارة المعارف، ۱۴۴۲هـ ق)، ۶۷.

راتلونکې کې دا کس ته حادثه یا مرض پېښ شو، نو مصارف او اخراجات ئې د بیمه کارخانې والا د غاړې دي او که چېرې نه سو پېښ بیا دا کارخانه هغه پیسې له سود سره او بیمه کونکې کس ته ورکوي، که چېرې دا کس مړ شوی وي او پیسې نه وي مصرف شوی، نو بیمه کونکې کس چې د چا نوم خپل د وارث په ځای کې لیکلي وي هغه کس ته دا پیسې له سود سره ورکوي، دې ته د ژوند بیمه وایي، چې په انګلش کې د (Life Insurance) ورته وایي، د دې بیمې په اړه امام زحیلي رحمه‌الله داسي فرمایي: «والتأمين من الحوادث الجسمانية: وهو أن يلتزم المؤمّن بدفع مبلغ معين إلى المؤمن له في حالة إصابته أثناء المدة المؤمن فيها بحادث جسماني او إلى مستفيد آخر إذا مات المستأمن» *ژباړه: "بدن ته د راتلونکې حادثو له پاره بیمه کول: هغه دا چې بیمه کونکې یوڅه معیني پیسې د بیمې کارخانې ته ورکړي د هغه حادثوپه بدل کې چې د بیمه کونکې بدن ورسره مخامخ کېږي او د بیمه کونکې د مړ کېدو په صورت کې د دې مال څخه بل یو ګټه اخیستونکې سي"*. د بیمه د پیسو په اعتبار سره د بیمه د دواړو اقسامو تر منځ توپیر دا دئ چې په جنرل بیمه کې د بیمه کونکې پیسې د نه استعمالېدو په صورت کې بیرته نه ورکول کېږي، البته د ژوند په بیمه کې د بیمه کونکې پیسې د نه استعمالېدو په صورت کې بیرته ورکول کېږي.[6]

### ۳. د بیمې حکم

بیمه په پورتني طریقه سره هغه که جنرل بیمه وي او که د ژوند بیمه وي، د ټولو جمهورو علماؤ په اجماع سره ناروا ده، ځکه چې د شریعت خلاف عمل دی، محمد بن ابراهیم په خپل کتاب (الموسوعه) کې د بیمې د حکم اړوند داسي فرمایي: «وهذا التأمين بجميع أنواعه محرم؛ لما فيه من الغرر والجهالة، والغبن والربا، وهو ضرب من الميسر، وأكل لأموال الناس بالباطل. والغرر في التأمين كثير؛ لأن من أركان التأمين الخطر، والخطر حادث محتمل الوقوع، لا محقق الوقوع، وغير معروف وقوعه.... فلا يجوز هذا التأمين بكل أنواعه، سواء كان على النفس، أو على البضائع، أو الآلات، أو غيرها، ومن ألزم الناس به فعليه وزره».[7] *ژباړه: "بیمه خپل د ټولو ډولونو سره حرامه ده، ځکه چې په هغه کې دوکه، سود، خمار او د درواغو معامله ده، او د نورو خلګو مال په ناحقه خوړل دي، د بیمې د ارکانو څخه یو خطر دی او خطر حادث دی ځکه چې د هغه احتمال شته چې واقع شي نه یقین، نو د بیمې دا طریقه دخپلو ټولو ډولونو سره حرام ده، هغه که د ژوند وی او که د مال وي او که د سامان وي، که چا داسي معامله وکړل نو ګناه ئې د هغه ده".*

---

[6] الزُّحَيْلِيّ، *الفقه الاسلامي و ادلته*، ۳۴۲۲/۵.

[7] محمد بن ابراهيم التويجري، *موسوعة الفقه الإسلامي* (الجزاير: بيت الأفكار الدولية، ۱۴۳۰ هـ.ق)، ۴۴۷/۳.

«والخلاصة: يشتمل التأمين ذي القسط الثابت على خمسة أسباب تجعله حراما: (١): الربا (٢): الغرر (٣): الغبن (٤): القمار (٥): الجهل»[٨] ژباړه: خلاصه دا چې بيمه د پنځو اسبابو له وجهې حرامه ده: ربا، خطا ايستل، ظلم، خمار او جهل پکښې کې دی.

**۳. ۱.** د شريعت له نظره په مروجه بيمه کې ډيري خرابياني شته چې ځيني مشهوره ئې په لاندي ډول دي:

**سود (ربا) دوکه او خطا ايستل (غرر) خمار(قمار)**

دا درېواړه خرابياني په بيمه کې موجودې دي، چې د شريعت له نظره درېواړه حرام او ګناهِ کبېره بلل کېږي، د خرابوالي د تفصيل په اړه مفتي محمد شفيع رحمه‌الله په خپل کتاب (بيمه زندگى) کې داسي وايي:[٩]

**۳. ۱. ۱. سود (ربا):** د بيمې په مذکوره طريقه کار کې لومړی خرابي د سود ده، چې هغه الله تعالی حرام ګرځولې ده، په دې معامله کې سود په دا ډول دی چې د ژوند په بيمه کې که چېرې په معلومه وخت کې هغه بيمه کونکی کس مريض نه شي نو د بيمې اداره هغه پيسې بيرته بيمه کونکې کس ته ورکوي د سود سره، يعني پر هغه پيسو چې څو فيصده ګټه د سود په صورت کې مقرر کړې وو د هغه سود سره پيسي ورکوي. {لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهُ وَشَاهِدَهُ وكَاتِبَهُ}.[١٠]

**۳. ۱. ۲. دوکه او خطا ايستل(غرر):** په اصطلاح کې غرر دې ته وايي چې د عقد د ارکانو څخه يو(مبيع يا قيمت) يا وخت د دوئ څخه يو مجهول وي او يا هم پر نامعلومي کار باندي موقوف وي. لکه پيغمبر صلى‌الله عليه وسلم فرمايي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: {نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الغَرَرِ}.[١١] *ژباړه: د ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی دا وايي: نبي عليه السلام د دوکې (خطاايستلو) بيع څخه منعه کړې يو.*

د بيمې په مذکوره طريقه کې دوهمه خرابي هغه د دوکې ورکول او يا هم خطا ايستل ده، هغه په دا ډول چې بيمه کونکی دا معامله په دې خاطر کوي چې خپل د تجارت مال د هلاك کېدو څخه را وګرځوي، اوس دا خطر غير يقيني دی او دا معلوم نه ده، چې بيمه کونکی به خپلې پيسې وصول کړي د حادثې په صورت کې يا به يې نه کړي وصول، که ئې وصول کړی نو ډيری به

---

[٨] الزُّحَيْلِيّ، *الفقه الاسلامي و ادلته*، ٣٤٢٨/٥.

[٩] مفتي محمد شفيع عثماني، *بيمه زندگى* (كراچى: دارالاشاعت، بی‌تا)، ١١.

[١٠] أبو داود سليمان بن الأشعث السِّجِسْتاني، (بيروت: المكتبة العصرية، بی‌تا)، *سنن أبي داود*، "البيوع" ٢٢ (٣٣٣٣) ٢٤٤/٣.

[١١] أبو عيسى، محمد بن عيسى الترمذي، (مصر: مطبعة مصطفى البابي، الطبعة: الثانية، ١٣٩٥ هـ ق)، *سنن الترمذي*، "البيوع"، ١٢ (١٢٣٠) ٥٢٤/٣.

وصول کړي که به لړ، داسي معاملې ته په شریعت کې غرر وایي او غرر په اسلام کې ناروا عمل دی.

**۳. ۱. ۳. خمار:** خمار هر هغه معاملې ته وایي چې په هغه کې د ګټې او د تاوان خطره وي، داسي چې په کومه معامله کې د نفع او تاوان خطره وي هغه الله پاک په خمار سره په قرآن الکریم کې نوملي او حرام ئې ګرځولي ده.

د بیمې په مذکوره طریقه کې هم خمار شته هغه په دا ډول چې د بیمې اداره او بیمه کوونکی د دواړو سره دا وېره او خطره وي چې خپلې پیسې به وصول کړي او که یا، ډېرې به وصول کړي او که لږ، چې دا طریقه کار الله پاک حرام ګرځولی دی.[12]

همدارنګه علامه زحیلي رحمه‌الله داسي فرمائي: «فهو غير جائز شرعاً، وهو رأي أكثر فقهاء العصر، (الى ان قال) وسبب عدم الجواز يكاد ينحصر في أمرين: هما الغرر والربا».[13] *ژباړه: "(بیمه) دا شرعا ناجایز دی، دا د اکثرو معاصرو علماؤ رایه ده او د ناروا کېدو وجه ئې داده چې په دې کې دوې خرابیاني دي، دوکا او سود".*

الخامس: عقد التأمين التجاري فيه أخذ مال الغير بلا مقابل، وأخذ بلا مقابل في عقود المعاوضات التجارية محرم لدخوله في عموم النهي في قوله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ﴾[14] *ژباړه: "د بیمې د ناروا والي پنځمه وجه دا ده چې په دې کې د بل کس مال بېله عوض اخیستل دي، او دا په معاملاتو کې حرام کار دی د آیات مبارك د عموم څخه، الله پاك فرمايي: اې خلګو تاسي خپل اموال په خپل منځ کې په باطله طریقه سره مه خورئ، البته که چیرې د تجارت په صورت کې هغه هم په دې شرط چې تاسي په خپل منځ کې خوشحاله یاست".*

**۳. ۲. د بیمې په اړه فتواوې**

د سعودي عربستان د مکې په ښار په ۱۳۹۶هـ ق. کال کې د سترو علماء کرامو غونډه دائره شوه چې دبیمې اړوند لاندې پرېکړه پکښې وشوه: «أما التأمين التجاري أو التأمين ذو القسط الثابت: فهو غير جائز شرعا، وهو رأى أكثر الفقهاء في العصر الحاضر، وهو ما قرره المؤتمر العالمي الأول للاقتصاد الإسلامي في مكة المكرمة عام ١٣٩٦هـ/١٩٧٦م، والسبب في عدم الجواز يكاد ينحصر في أمرين: هما الغرر والربا»[15] *ژباړه: "بیمه شرعا ناجائز او ناروا ده په اسلامي شریعت کې او دا اکثرو*

---

[12] مولاي خليل، *التأمين التكافلي الاسلامي الواقع و الأفاق* (الجزاير: غيزان)، ۴.

[13] الزُّحَيْلِيّ، *الفقه الاسلامي و ادلته*، ۳۴۲۳/۵.

[14] تصدر عن منظمة المؤتمر الاسلامي بجدة، مجلة مجمع الفقه الإسلامي (جدة: بی‌تا)، ۱۴۷۴/۱۳.

[15] مجلة مجمع الفقه الإسلامي (جدة: بی‌جا)، ۳۷۸/۲.

*معاصرو فقهاء کرامو رأی ده او د دې د حرمت ثبوت په هغه مجلس کې قرار لري کوم چې په ۱۳۹۶ هـ ق. کې په مکه مکرمه کې ترسره شو او د ناروا والي سبب ئې دوه شیان وو، دوکه او سود".*
د فقه المیسر مصنفینو د بیمې په اړه داسې فتوی رانقله کړې ده، فرمایي: التأمین التجاري: اتفق أکثر الباحثین علی عدم جواز التأمین التجاري.[16]

**دفتوی خلاصه:** د بیمې په اړه د اکثرو فقهاوو دا نظریه ده چې بیمه شرعا ناروا او حرامه ده د هغه شرعي مفاسدو له وجهې کوم چې لوړ په تفصیل سره ذکر شول.

## ۴. تکافل

تکافل دا د بیمې متبادل دی، ځکه بیمه خپل د ټولو اقسامو سره په اسلامي شریعت کې ناروا وه، نو علماوو د هغو خلګو له پاره یوه شرعي لار را وایستل چې په هغه کې د خلګو د تجارتي اموالو د حادثاتو مخنیوی پکښې وسي، چې هغه شرعي لاره د تکافل یا اسلامي بیمه په نامه سره پېژندل کېږي.

### ۴. ۱. د تکافل پېژندنه

تکافل د (کفالة) څخه اخیستل شوی دی، په لغت کې ضمانت کولو ته او یو د بل ساتنې ته ویل کېږي، تکافل دا د تفاعل له باب څخه دئ او په تفاعل باب کې د مشارکة خاصیت موجود دئ، نو معنا ئې دا سوه چې یو د بل ضامن جوړېدل او یا هم یو د بل په ګډه ساتنه کول.

### ۴. ۲. په اصطلاح کې تکافل

یو اسلامي بیمه ده، چې د هغه تګلاره پر تبرع، تناصر او تعاون باندې مشتمله ده او په هغه کې ټول شریکان د شرایطو او اصولو مطابق خپلې مالي زېرمې د خلکو د کومک له پاره د کارخانې سره شریکوي، چې په هغه مالي زېرمې سره د خلګو مالونه له حادثاتو څخه محفوظ کېږي،[17] دې ته تکافل او یا هم اسلامي بیمه وایې او په عربي کې په تأمین التعوني سره مشهوره دی؛ علامه زحیلي رحمه‌الله دتکافل اړوند دا سې فرمایي: « تأمین تعاوني: وهوأن یشترك مجموعة من الأشخاص بدفع مبلغ معین، ثم یؤدی من الاشتراکات تعویض لمن یصیبه ضرر».[18] *ژباړه: "تأمین تعاوني دې ته وایي، چې یو څو کسان راجمع شي او یو څه اندازه پیسې سره جمع کړي، بیا په دغه شریکانو کې چې کوم کس د حادثې سره مخامخ سي، د هغه تاوان په اندازه باندې هغه ته دا پیسې ورکوي".*

---

[16] عبد الله بن محمّد المطلق او محمَّد بن إبراهیم الموسَی عَبد الله بن محمد الطیّار، *الفقه المیسر* (الریاض: مَدَارُ الوَطن للنَّشر، ۱۴۳۲هـ ق)، ۱۰/۱۰۶.
[17] محمد ابو زهرة، *التکافل الاجتماعي في الاسلام* (قاهرة: دارالفکر العربي، نیته نشته)، ۴.
[18] الزُّحَیْليّ، *الفقه الاسلامي و ادلته*، ۳۴۲۱/۵.

علامه تميمي رحمه‌الله د تکافل اړوند فرمايي: خلو التأمين التعاوني من الربا بنوعيه ربا الفضل وربا النسأ، فليس عقود المساهمين ربوية، ولا يستغلون ما جمع من الأقساط في معاملات ربوية.[19]
*ژباړه: د همکارۍ بيمه د سود له دواړو ډولونو څخه پاکه ده، د زياتوالي سود او د ځنډ سود. د ونډه لرونکو قراردادونه سود نه دي، او دوی هغه څه نه کاروي چې د پريميم څخه راټول شوي دي په سودي معاملو کې."*
او بيا زياتوي چې تکافل د هغه مفاسدو شرعيو څخه خالي دی کوم مفاسد چې په بيمه کې وو، لکه ربا او داسي نوري خرابياني.

### ۳.۴. د تکافل ثبوت په قرآن او احاديثو سره

د تکافل پورتنی طريقه نوې نه ده؛ بلکه په قرآن او حديثو کې دا تصور واضح موجود دی؛ ځکه چې د تکافل بنياد پر تبرع، تناصر او تعاون باندي ولاړ دی، د کومو شيانو ترغيب چې الله پاک او نبي عليه السلام  موږ ته په قرآن او حديثو کې په څو واري کړی دی، د لا نور وضاحت  لپاره يو څو دلايل وړاندي کوو؛ د تعاون په هکله الله پاک په قرآن مجيد کې فرمايي: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾[20] *ژباړه: "کوم کارونه چې د نيکۍ او خدای پالني دي په هغو کښې له ټولو سره مرسته وکړئ او کوم کارونه چې د ګناه او تېري وي په هغو کې د هيچا ملاتړ مه کوئ، د الله څخه ووېرېږئ، د الله عذاب ډېر سخت دی".*
همدارنګه الله پاک په بل ځای کې  د تبرع په هکله داسي فرمايي: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾[21] *ژباړه: "مؤمنان خو يو له بل سره ورونه وي، نو د خپلو ورونو په مينځ کښې مناسبات سم کړئ او د الله څخه ووېرېږئ، هيله ده چې پر تاسي رحم وکړای شي".*
د دې وروګلوي مطالبه هم داده، چې يو مسلمان د بل مسلمان ورور سره مرسته وکړئ او په تکليف او پرېشاني کې يو له بل سره لاس ونيسي لکه څرنګه چې سکه وړونه په خپل مينځ کې يو له بل سره مرسته او غم شريکي کوی.
همدارنګه نبي صلى‌الله عليه وسلم په يو مبارک حديث کې د مؤمنانو د رحم دلي په اړه داسي فرمايي: {عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ،

[19] أبو عبد الرحمن عبد الله بن عبد الرحمن التميمي، *توضيح الأحكام من بلوغ المرام* (مكّة المكرّمة: مكتبَة الأسدي)، ۲۷۷/۴.
[20] المائدة ۲/۵
[21] الحجرات ۱۰/۴۹

وَتَرَاحُمِهِمْ، وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى}.[۲۲]
*ژباړه: "نبي علیه السلام فرمايي د مؤمنانو په خپل مينځ کې د شفقت، مهرباني او همدردی مثال د يو بدن په څېر دی چې کله د بدن يو اندام په تکليف کې وي نو ټول بدن ورسره په تکليف وي په دا طريقه سره چې ټول بدن بېداره وي او په تبه اخته شي".*

### ۴.۴. د تکافل کارخانې طريقه کار

په شروع کې يو څو کسان سره يو ځای سي او يوه کارخانه جوړه کړي، چې هغه ته د تکافل او يا هم د اسلامي بيمه نوم ورکړي، بيا دا کارخانه د پول (Pool) په نامه يوه اداره جوړه کړي، د هغه خلګو له پاره چې د تکافل طريقې ته ئې ضرورت وي، نو دغه پول د هغو خلګو څخه د خيرات په شکل کې پيسې اخلي، بيا د مشترک کسان د شرايطو او اصول مطابق دغه پول ته پيسې ورکوي، نو چې دا مشترک کسانو ته يو حادثه پېښه شي، نو دا پول د هغو خلګو تاوانونه ور پوره کوي، دا د تکافل کارخانې طريقه کار دی.[۲۳]

تکافل کارخانه چې د خپلو شريکانو څخه په کومه طريقه او په کوم بدل کې پيسې اخلي د هغه له پاره فقهاءِ کرامو درې صورته بيان کړي دي:

#### ۴.۴. ۱. هبه بشرط العوض

ځينو فقهاءِ کرامو د تکافل بنياد پر (هبه بشرط العوض) باندې نومولی دی، د هبه بشرط العوض طريقه داده، چې په دې کې شريکان د هبې په نيت سره خپل رقم کارخانې ته وسپاري، چې کارخانه بيا دا پيسې د حادثې په صورت کې په دوی باندې مصرفوي؛ دې ته علماء هبه بشرط العوض وايي.

د تکافل دا طريقه علماء کرام لغوه کوي، ځکه چې په دې کې يو څو شرعي خرابيانې موجوده دي، هغه دا چې هبه بشرط العوض که څه په شروع کې هبه ده ليکن په آخره کې بيع ده او د بيعي احکام پر جاري کېږي، لکه څنګه چې د فقهي د عباراتو څخه واضحه معلومېږي:

«أن الهبة بشرط العوض عنده بيع ابتداء وانتهاء وعندنا بر ابتداء وبمنزلة البيع إذا اتصل به القبض من الجانبين كذا في المبسوط».[۲۴] *ژباړه: "امام شامي رحمه‌الله فرمائي: چې هبه بشرط العوض دامام زفر رحمه‌الله په نزد دا ابتداءً او انتهاءً بيع ده او د احنافو مذهب مطابق دا ابتداء نيکي ده او د وصولېدو وروسته د بيعې په حکم کې ده، همدارنګه په مبسوط کې هم رانقل شوي دي".*

---

[۲۲] مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري، *صحيح مسلم* (بيروت: دار إحياء التراث، ۱۳۰۴هـ ق)، "البر والصلة والآداب"، ۴۵ (۲۵۸۶).

[۲۳] عصمت الله، *تکافل کې شرعي حيثيت*، ۷۷.

[۲۴] ابن عابدين، *ردالمحتار على الدرالمختار* (بيروت: دارالفکر، ۱۴۱۲هـ ق)، ۲۳۵/۶.

د مذکور عبارت څخه دا معلومېږي چې هبه بشرط العوض دا بیع ده او پر دې باندې د بیع احکام جاري کېږي، نو چې دا بیع ده بیا نو په دې کې د بیمه (انشورنس) په ډول سود او دوکه دواړه پیداکېږي، نو د تکافل دا طریقه کار سم نه دئ.

### ۴.۴.۲. التزام التبرع

د تکافل دوهم صورت چې علماء کرامو بیان کړی دی، هغه د التزام التبرع دی، التزام تبرع دې ته وایي چې پر شریکانو باندې دا لازمه ده، چې هغه د تکافل پول ته پیسې اداکړي او پر پول پر ځان باندې دا لازم کړي چې د حادثې په صورت کې کوم تاوانونه شریکانو ته رسیږي، هغه پول ادا کوي، د تکافل دا صورت علماء کرامو د مالکیو د مذهب څخه په لاندې حوالې سره را نقل کړی دئ: «من التزم الإنفاق على شخص مدة معينة او مدة حياة المنفق أو المنفق عليه، أو حتى يقدم زيد أو إلى أجل مجهول لزمه ذلك ما لم يفلس أو يمت»[25] *ژباړه: "که څېرې یو څوک پر ځان باندې د یوه کس مصرف لازم کړي د یو معلوم وخت له پاره، یا په دواړو کې د یوه د ژوند تر وخت پورې، یا د زید تر راتلونکې پورې، چې د هغه د راتګ وخت نه وي معلوم، نو پر دا کس باندې د هغه نفقه لازمه ده، تر هغه وخته پورې چې دې مفلس نه سي او یا هم مړ نه سي".*

دا صورت هم علماء کرامو رد کړی دی، هغه په دې خاطر چې دا صورت هغه وخت سمېدای شي، چې دا التزام د یوه طرف څخه وي، نو اوس څنګه چې دلته د دواړو طرف څخه التزام دی، په دې خاطر دا هم د بیع په حکم کې دی، نو کوم تاوانونه چې په هبه بشرط العوض کې دي (سود او دوکه) هغه تاوانونه په دې کې هم موجوده دي.[26]

### ۴.۴.۳. وقف

د تکافل درېیم صورت چې علماؤ بیان کړی دی هغه د وقف صورت دی، د وقف صورت داسې دی چې د تکافل شریکان چې کومې پیسې په پول کې جمع کوي هغه به بېله شرط وی او هغه پیسې به د هغو د ملکیت څخه وتلې وي، په دې پیسو کې به نه میراث وي او نه به ئې زکات اداء کوي او د دې خیرات څخه به ئې مقصد دا وي چې په دې کې کومو شریکانو ته تاوانونه رسیږي، هغه تاوانونه به ئې د دې پیسو څخه اداکېږي، د پول او شریکانو تر منځ به هیڅ تعلق نه وي، پول چې کم کومک د شرکاؤو سره کوي، دا یوه مستقله عطیه ده چې د ماقبل سره ئې هېڅ تعلق نسته، البته د پول اداره ټول اختیارات لري نو هغه د وخت په تېرېدو سره شریکانو ته یوڅه اندازه حصه هم ورکوي، ځکه چې د وقف میدان له هبې او د صدقې څخه ډېر غټ دی او د وقف وجود په مذکوره طریقې سره شریعت هم مني او قانون ئې هم مني؛ وقف خپله مالك هم جوړېدای شي

---

[25] شمس الدين ابوعبدالله، *تحريرالكلام في مسائل الالتزام* (بيروت: دارالغرب الاسلامي، ۱۴۰۴هـ.ق)، ۷۵.
[26] عصمت الله، *تکافل کې شرعي حیثیت*، ۸۵.

او بل مالك هم جوړ وای شي، نو د تکافل له پاره د وقف صورت تر ټولو ښه دی، چې د تکافل ټوله طریقه کار پر دغه صورت باندې وجود لري.[۲۷]

**۵. د تکافل شرطونه**

د تکافل له پاره چې د وقف کوم صورت مورد ذکر کړی، د هغه د صحت له پاره یو څو شرطونه ضروري دي، چې د تکافل مقاصد شرعا روا سي، هغه شرطونه څلور دي:

۵.۱. شریکان چې د وقف په نیت سره کومې پیسې په پول کې جمع کوي، په هغه باید هیڅ قسم نیت شرکاؤ نه وي کړی.

۵.۲. په پول (Pool) کې چې کومې پیسې جمع شوي دي، د هغه حېثیت د عطیې او صدقې دي، د دې عقد د ماقبل سره هېڅ تعلق نشته؛ بلکه دا یوه مستقله عطیه ده.

۵.۳. شریکانو چې کومې پیسې د تکافل په بودجه کې جمع کړې دي، هغه به بلکل د شریکانو د ملکیت څخه خالي وي.

۵.۴. پول به د دې عطیې او صدقې مالك وي، هغه چې څه وغواړي کولای شي.[۲۸]

د تکافل د جواز په اړه علامه زحیلي رحمه‌الله په خپل کتاب (الفقه الاسلامي وأدلته) کې فرمائي:

«لا شك كما تبين سابقاً في جواز التأمين التعاوني في منظار الفقهاء المسلمين المعاصرين؛ لأنه يدخل في عقود التبرعات، ومن قبيل التعاون المطلوب شرعاً على البر والخير؛ لأن كل مشترك يدفع اشتراكه بطيب نفس، لتخفيف آثار المخاطر وترميم الأضرار التي تصيب أحد المشتركين،أياًكان نوع الضرر، سواء في التأمين على الحياة او الحوادث الجسدية او على الأشياء بسبب الحريق أو السرقة».[۲۹] ژباړه: "په دې کې هیڅ شک نشته لکه څنګه چې د تکافل د جواز په اړه د اوس زماني د فقهاؤ نظرونه وړاندې کړل، ځکه چې دا احسان په معاملو کې داخله ده او په دا ډول کومک کول شرعا دا ښه او د خیر کار بلل کېږي، په تکافل کې چې کوم شی جمع شوی دی، هغه هر شریک په خپل خوښه جمع کړی دی، د هغه تاوانو د اسان کولو له پاره کوم چې د حادثې په صورت کې راځي، هغه که هر ډول تاوان وي، هغه که د ژوند تکافل وی او که د جسم د حادثې وي او که د سامان وي د سوځلو په صورت کې او که د غلا په صورت کې وي".

د تکافل په اړه د اوسني وخت د فقهاء کرامو د جواز نظرونه دا دي، لکه څنګه چې په پور تنې عبارت کې ذکر شول، ځکه چې د تکافل بنیاد په پر اخوت او وروروګلوي باندې اېښول شوی، په

---

[۲۷] محمد تقي الدين العثماني، *بحوث في قضايا الفقهية* (قطر: ادارة الشوون الاسلامية، ۲۰۱۳ م)، ۱۹۷/۲.

[۲۸] عصمت الله، *تکافل کې شرعي حیثیت*، ۸۹.

[۲۹] الزُحَيْلِيّ، *الفقه الاسلامي و ادلته*، ۳۴۲۲/۵.

دې کې هر شريك په دې نيت سره پيسې جمع کوي که چېرې ماته يا کوم بل کس ته تاوان ورسيږي، نو په دې پيسو باندې به د هغه تاوان سپک کړل شي.

### ۶. د تكافل ډولونه

څنګه چې تكافل د بيمې (Insurance) متبادل وو، نو لکه څرنګه چې بيمه پرڅو ډولو باندې وېشل شوې وه، همدارنګه د تكافل هم دوه ډولونه دي:

### ۶.۱. عمومي تكافل

په جنرل تكافل کې د وسايلو يعني تياره، موټر، کور او د داسې نورو شيانو د خطرې او حادثې څخه راګرځولو له پاره تكافل غړی او شريک جوړيږي، که چېرې په يوه حادثه کې دې وسايلو ته تاوان ورسيږي، نو تاوان ئې د تكافل بودجه په غاړه اخلي، همدارنګه نور چې کمو کسانو ته تاوان رسيږي د هغو ټولو تاوان د تكافل اداره د هغه جمع شوي پيسو څخه اداء کوي، دا بودجه ته په انګلش کې (PTF) بودجه وايي يعني(Participant Takaful Fund).

(PTF) بودجه هغه مالي زېرمې ته ويل کيږي چې نه د کمپنۍ په ملکيت کې وي او نه د غړي په ملکيت کې وي؛ کومې پيسې چې جمع شوې وي کارخانه دا ټولې په ترتيبه وی او دا پيسې د ګټې له پاره په کاروبار باندې بنده وي، چې د هغه مختلف صورتونه دی، د مضاربت په صورت کې وقف په خپله رب المال دی او کارخانه مضارب دی او کومه ګټه چې راځي د هغې مالك هم وقف دی، بيا دا وقف خپل د شريكانو د حصو په اعتبار سره دا ګټه پر هغو باندې تقسيمه وی، دې ته جنرل تكافل وايي، په جنرل تكافل کې صرف دغه يو بودجه دی.[۳۰]

### ۶.۲. د ژوند تكافل

د ژوند بيمې ته د تكافل په طريقه کار کې کورنی تكافل ويل کيږي، انسان ته چې په خپل ژوند کوم خطرات او حادثات راځي او د هغو حادثاتو څخه چې کوم تاوانونه منځ ته راځي د هغو تاوانو څخه د خلاصون له پاره انسان د ژوند تكافل يعني د اسلامي بيمه غړی جوړيږي، دې ته د ژوند تكافل وايي.

د تكافل کارخانې په فيملي تكافل کې د تاوان د حفاظت سره يوه بله اسانې هم خپلو غړو ته وړاندې کړې ده، هغه دا ده چې دوی کولای سې چې خپلې پيسې په حلال کاروبار باندې د ګټې له پاره د کارخانې سره بندې کړي، چې دې بودجه ته په انګليسي کې (PIA) بودجه وايي، يعني (Participant Takaful Fund) دا بودجه صرف د کورنې تكافل له پاره دی.

---

[۳۰] عصمت الله، *تكافل کې شرعي حيثيت*، ۱۰۰.

PIA هغه فنډ ته ویل کیږي کوم چې کمپنی خپل د غړي لپاره یو حساب (اکاونټ) جوړ کړي چې د هغه له لارې څخه غړي خپله پانګونه (Investment) خپله کوي دې ته PIA بودجه وايي.[31]
کورنی تکافل بیا په ځان کې پر دوه ډوله دی:

**۶. ۲. ۱. ټولنیز تکافل**

دا هغه تکافل دئ، چې یوه کارخانه خپل د ټولو کاریګرو لپاره د تکافل پالیسي وکړي، که هر کاریګر ته کوم تاوان د ناجوړۍ په صورت کې رسیږي، د هغه علاج د تکافل اداري په غاړه دی، هغه نو بیا تکافل اداره اختیار لري چې خپله ئې علاج ورکوي او که یې د علاج پیسې ورکوي، په داسې صورت کې پیسې د تکافل پالیسي اخیستونکې د ملکیت څخه وځي او د وقف بودجه په ملکیت کې داخلیږي.

**۶. ۲. ۱. فردي تکافل**

دا د عام بیمې په ډول دئ، چې هر شخص خپل د ځان د حفاظت له پاره د تکافل پالیسي اخلي ، د کورنی تکافل په دې صورت کې د (PTF) بودجه هم سته، نو په دې خاطر دا پیسې د تکافل پالیسي اخیستونکې کس د ملکیت نه وځي، ځکه چې دا پیسې ده د ګټې له پاره جمع کړې دي، نو د دې زکات د تکافل پالیسي اخیستونکي کس باندې لازم دی.[32]

**۷. د تکافل حکم او د هغه د جواز په اړه د فقهاء کرامو فتواوې**

تکافل خپل د ټولو ډولونو سره جائز او روا دی، ځکه چې د هغه بنیاد پر کومک او همکاري باندې اینبول شوی دی، لکه څنګه چې محمد بن ابراهیم په خپل کتاب الموسوعه کې فرمايي: «التأمين التعاوني: وهو أن يتفق مجموعة من الأقارب، أو الأصدقاء، أو الزملاء على أن يدفع كل منهم اشتراكاً معيناً، لتعويض الأضرار التي قد تصيب أحدهم إذا تعرض لخطر معين من مرض، أو خسارة، أو احتراق فهذا جائز؛ لأنه من عقود التبرعات الخ..»[33] *ژباړه: "تکافل دې ته وايي چې یو څه خپلوان یا ملګري سره یو ځای سي او یو څه معلوم مقدار پیسې سره یوځای کړي، د تاوانو د مخنیوی لپاره چې کله یوه ته تاوان ورسیږی یا ناجوړې یا د اور له سبب، د دې تکافل دا ټول صورتونه جایزاو روا دی ځکه د دې بنیاد پر احسان او کومک باندې اینبول شوی دی".*

همدارنګه د تکافل د جواز په اړه علامه زحیلي رحمه‌الله داسې فرمايي: «حكم التأمين التعاوني: لاشك في جواز التأمين التعاوني في الإسلام، لأنه يدخل في عقود التبرعات، ومن قبيل التعاون على البر؛ لأن كل مشترك يدفع اشتراكه بطيب نفس لتخفيف آثار المخاطر وترميم الأضرار التي تصيب

[31] عصمت الله، *تکافل کې شرعي حیثیت*، ۱۰۱.
[32] عصمت الله، *تکافل کې شرعي حیثیت*، ۱۰۲.
[33] محمد بن ابراهيم التويجري، *موسوعة الفقه الإسلامي* (الجزائر: بيت الأفكار الدولية، ۱۴۳۰ هـ.ق)، ۴۴۶/۳.

أحد المشتركين، أيا كان نوع الضرر، سواء في التأمين على الحياة، أو الحوادث الجسمانية الخ»[٣٤]
*ژباړه: "د تکافل حکم: په دې کې هیڅ شک نسته چې تکافل په اسلام کې جایز او روا دئ، ځکه چې دا د احسان کولو او د نیکۍ کولو د معاملې ځخه دی، هر هغه تاوان چې په مشترک ډول او په خپل خوښه لرې کړل سي د تاوان د سپک والي په خاطر کوم چې خپل ملګري ته رسېدلی وي هغه که په هر ډول وي، که د ژوند تکافل وي او که انفرادي تکافل وي".*

**۷. ۱. د تکافل د جواز په اړه فتوی**

په ۱۳۸۵ هـ ق کال کې د قاهرې په ښار کې د کبار علماء کرامو تر مېنځ ناسته وشول چې د تکافل اړوند لاندې پرېکړه پکښې تر سره شول: «وقد أجاز مؤتمر علماء المسلمين الثاني في القاهرة عام (١٣٨٥هـ.ق/١٩٦٥م)، ومؤتمر علماء المسلمين السابع عام (١٣٩٢هـ.ق/ ١٩٧٢ م كلاً من التأمين الاجتماعي و التأمين التعاوني وهو ما قرره مجمع الفقه الإسلامي في مكة المكرمة عام (١٣٩٨هـ/١٩٧٨م)».[٣٥] *ژباړه:" په ١٣٨٥ هـ.ق کال کې د قاهرې په ښار کې د مسلمانانو د دوهمې ناستې په مجلس او همدارنګه د ۱۳۹۲ هـ.ق کال کې د مسلمانانو د اوومې ناستې په مجلس کې دا پرېکړه وسوه چې ټول شموله او کومکې تعاون دواړه جائز دي، او دا پرېکړه په ۱۳۹۸ هـ.ق کال کې د مکې مکرمې په ښار کې ترسره سوه".*

أولاً: إن عقد التأمين التجاري ذا القسط الثابت الذي تتعامل به شركات التأمين التجاري عقد فيه غرر كبير مفسد للعقد ، ولذا فهو حرام شرعاً.

ثانياً: إن العقد البديل الذي يحترم أصول التعامل الإسلامي هو عقد التأمين التعاوني القائم على أساس التبرع والتعاون ».[٣٦] ژباړه: اول هغه د تجارتي بیمې تړون چې سوداګریزبیې شرکتونه معامله پکښې کوي، دا یو داسې تړون دی چې په هغه کې غټه دوکه ده او عقد فاسېده وي، نو له همدې امله داسې معامله شرعا حرامه ده.

دوهم هغه متبادل قرارداد چې اسلامې اصولو ته درناوې لرې، د همکارۍ بیمې قرارداد دې او د همکارۍ پر لنسټ لاندې ولاړ دی.

**۷. ۳. د عبارت خلاصه**

د کبار علماء کرامو په اجماع سره بیمه په اسلام کې ناروا ده، ځکه چې په هغه کې ډېرې دوکې دي چې هغه تړون د فساد سبب ګرځي؛ نو پر دې اساس باندې بیمه ناروا شول، خو د دې بدیل چې مسلمانانو ته د دې ضرورت وو هغه د کبار علماؤ په اجماع سره تکافل وټاکل سو؛ ځکه چې په

---

[٣٤] الزُّحَيْلِيّ، *الفقه الاسلامي و ادلته*، ٣٤١٦/٥.
[٣٥] الزُّحَيْلِيّ ، الفقه الاسلامي و ادلته، ٣٤٢٣/٥.
[٣٦] حسام الدين بن موسى محمد بن عفانة، *يسألونك عن المعاملات المالية المعاصرة* (القدس: المكتبة العلمية، الطبعةالأولى، ١٤٣٠ هـ.ق)، ٢٨٩.

هغه کې پورتنې خرابياني او مفسدات نسته او بل دا چې د تکافل بنياد پر کومك باندي ايښوول شوی دی.

همدا ډول په ۱۳۹۷هـ کال د سعودي عرب په ښار کې د کبار علماء کرامو د بيمې پر حرمت او د تکافل پر جواز باندي اجماع تر سره سول په يو څو دلايلو سره چې په لاندي ډول دي: «کما قرر مجلس المجمع بالإجماع الموافقة على قرار مجلس هيئة كبار العلماء في المملكة العربية السعودية رقم (٥١) وتاريخ ١٣٩٧ هـ.ق من جواز التأمين التعاوني بدلاً عن التأمين التجاري المحرم والمنوه عنه آنفًا للأدلة الآتية: أن التأمين التعاوني من عقود التبرع التي يقصد بها أصالة التعاون».[37] ژباړه: په ۱۳۹۷ هـ ق کال په ۵۱ گڼه کې د سعودي عربستان د لوړ پوړو عالمانو د اسمبلۍ په شورا کې يوه متفقه فيصله تصويب کړل چې تکافل دا د هغه تجارتي بيمې متبادل دی کوم چې حرام او ممنوع دي، تکافل د مرستي د معاملاتو څخه دې چې اصل مقصد يې هم تعاون او همکاري ده.

په ۱۳۹۷هـ.ق. کال کې د سعودي عرب په ښار کې کبار علماء کرامو د بيمې او تکافل اړوند دا پرېکړه وکړل چې بيمه خپل د ټولو ډولونو سره حرام ده او تکافل خپل د ټولو ډولونو سره جايز او روا دی، هغه په دې خاطر چې کوم شرعي نقصانات او خرابياني چې په بيمه کې هغه په تکافل کې نسته، چې د دواړو تر مېنځ فرق په لاندي ډول دی:

د تکافل بنياد پر کومك او همکاري باندي ايښوول شوی دی، چې پر انسان يو د بل همکار سي او د تاوان مخنيوی وکړي، خو د بيمې بنياد پر تجارت او نفع باندي ايښول شوی دی چې د بل سره پيسې جمع او ډيري ځيني واخله.

همدارنگه په تکافل ربا يعني سود نسته نه د ډېر والي سود سته او نه هم د پور سود، خو په بيمه کې د سود دواړه ډولونه سته.

په تکافل کې د حصې پېټېدل او يا هم نا معلوم کېدل دا د تکافل تړون ته تاوان نه رسوي ځکه چې په دې کې خمار او فرېب نسته، خو د دې بر خلاف په بيمه کې د حصې نامعلوم کېدل د هغه تړون ته تاوان رسوي ځکه چې هغه يو داسي تجارتي تړون دي چې د عوض په بدل کې شوی دی.

همدارنگه ابوعمر الدبيان رحمه‌الله خپل په کتاب المعاملات المالية کې د تکافل د جواز په د اړه د علماوو دا فتوی رانقل وي فرمايي:

[37] تصدر عن منظمة المؤتمر الاسلامي بجدة، *مجلة مجمع الفقه*، ۱۳۷۸/۱۳.

وصدر مثل ذلك عن هيئة كبار العلماء في المملكة العربية السعودية، وقد أفتوا بجواز التأمين التعاوني؛ لأنه من عقود التبرع.[38] *ژباړه: ›د سعودي عرب د فقهي مجلس فقهاوو د تکافل اړوند دا مسأله صادره کړل چې تکافل جایز دی، ځکه چې دا د نیکۍ او احسان کولو د تړونونو څخه دی".*

### ۸. موندنې

په دې څېړنې سره مو دا موندنې ترلاسه کړې چې بیمه یو عصري مالي تړون دی، چې پکښې یو شخص یا اداره (بیمه اخیستونکی) له یو شرکت سره تړون کوي، ترڅو د پیسو د ورکړې په بدل کې له خطر یا زیان څخه ځان وساتي. بیمه اکثراً د خطر ضد وسیله ګڼل کېږي؛ لکه د روغتیا، ژوند، موټر، ملکیت، سوداګرۍ او نورو برخو کې.

تکافل د اسلامي بیمې یوه بدیله بڼه ده، چې د اسلامي اصولو مطابق طرحه شوې. پکې ګډون کوونکې په ګډه یو صندوق جوړوي او له یو بل سره د زیان په وخت کې مرسته کوي. دا سیستم د تعاون، تقوی، او د ربح نه اخیستنې (Non-Profit) پر بنسټ ولاړ دی.

### پایله

د نوموړي څېړنې په توسط سره مونږ دې پایلې ته ورسېدلو چې د معاصرو فقهاوو او مفتیانو په اجماع سره بیمه خپل د ټولو انواعو سره حرام او ناروا ده، د بیمې د حرمت وجه د سود، خمار او دوکې شتون دی، دا هغه خرابیانې دي چې په اسلام کې شرعا ناروا دي.

اسلامي تکافل چې د دودیزې بیمې متبادل دی شرعا جایز او روا دی، ځکه چې بنیاد ئې پر تعاون، مرسته، صدقه او ګټه نه اخیستنې باندې ولاړ دی، په دې کې ګډونوال د یو بل د مالي زیان د جبران لپاره مرسته کوي، د اسلامي شریعت مطابق جوړ شوی او له سود (ربا)، خمار، دوکې او نامشروع معاملاتو څخه پاک دی.

فقهي حکم: جایز او حلال دی، اکثره معاصر علماؤ لکه د اسلامي فقهي نړیوال شورا علماء او د دارالافتاءوو فقهاو دا دول اسلامي بیمه یعني تکافل مشروع ګڼلی.

---

[38] أبو عمر دُبْيَانِ بن محمد الدُّبْيَان، *المعاملات المالية أصالة ومعاصرة* (الرياض: مكتبة الملك فهد، الطبعة: الثانية، ۱۴۳۲ هـ.ق)، ۱۳۶/۴.

## مأخذ او مراجع

القرآن الكريم

١. ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبدالعزيز بن احمد الحنفي. *ردالمحتار على الدرالمختار*، جلد.۴-٦. بيروت: دارالفكر ۱۴۱۲هـ.ق.

٢. أبو داود، سليمان بن الأشعث السِّجِسْتاني. *سنن أبي داود*. المحقق: محمد محيي الدين عبد الحميد. جلد ٣. بيروت: المكتبة العصرية، بی‌تا.

٣. أبو عيسى، محمد بن عيسى الترمذي، *سنن الترمذي*. جلد ٣. مصر: مطبعة مصطفى البابي، الطبعة: الثانية، ١٣٩٥ هـ.ق.

٤. أبو عبد الرحمن عبد الله بن عبد الرحمن بن صالح بن حمد بن محمد بن حمد بن إبراهيم البسام التميمي. *توضيح الأحكام من بلوغ المرام*. جلد۴. مكّة المكرّمة: مكتَبة الأسدي، بی‌تا.

٥. أبو عمر دُبْيَانِ بن محمد الدُّبْيَانِ، *المعاملات المالية أصالة ومعاصرة*. جلد ۴. رياض: مكتبة الملك فهد، الطبعة: الثانية، ١٤٣٢ هـ.ق.

۶. حسام الدين بن موسى محمد بن عفانة. *يسألونك عن المعاملات المالية المعاصرة*. جلد ١. القدس: المكتبة العلمية. الطبعةالأولى، ١٤٣٠ هـ.ق.

٧. عَبد الله بن محمد الطيّار، عبد الله بن محمّد المطلق او محمَّد بن إبراهيم الموسَى. *الفقه الميسر*. جلد ١٠. رياض: مَدَارُ الوَطن للنَّشر، ١٤٣٢هـ.ق.

٨. دوکتور عصمت الله، *تکافل کې شرعي حيثيت*. جلد ١. کراچي: ادارة المعارف، ١۴۴٢هـ.ق.

٩. *تصدرعن منظمة المؤتمر الاسلامي بجدة*. مجلة مجمع الفقه الإسلامي. جلد ١٣. جدة: بی‌تا.

١٠. شمس الدين ابوعبدالله. *تحريرالكلام في مسائل الالتزام*. جلد ١. لبنان: دارالغرب الاسلامي، ١۴٠۴هـ.ق.

١١. النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري. *صحيح مسلم*. جلد ۴. بيروت: دار إحياء التراث العربى، ١٣٠۴هـ.ق.

١٢. ابو زهرة، محمد. *التكافل الاجتماعي في الاسلام*. جلد ١. قاهرة: دارالفكر العربي، بی‌تا.

١٣. التويجري، محمد بن ابراهيم. *موسوعة الفقه الإسلامي*. جلد ٣. بی‌جا: بيت الأفكار الدولية، ١۴٣٠ هـ.ق.

١۴. عثماني، مفتي محمد شفيع. *بيمه زندگی*. جلد ١. کراچي: دارالاشاعت، بی‌تا.

۱۵. العثماني، محمد تقي الدين. بحوث في *قضايا الفقهية*. جلد ۲. قطر: ادارة الشوون الاسلامية، ۲۰۱۳ م.

۱۶. الزُّحَيْلِيّ، وَهْبَة بن مصطفى. *الفقه الاسلامي و ادلته*. جلد ۵. دمشق: دارالفكر، الطبعة الثانيه عشر، بی‌تا.

۱۷. القرضاوي، يوسف. *الحلال والحرام في الاسلام*. جلد ۱. قاهره: مكتبه وهبه، ۱۴۳۳ هـ.ق.

۱۸. خليل، مولاي. *التأمين التكافلي الاسلامي الواقع و الأفاق*. غيزان، الجزاير، بی‌تا.

۱۹. بن منصور، عبدالله. *التأمين التكافلي من خلال الوقف: بعد تنموي و حل لمشكلة ملكية الصندوق*. الجزاير: ۲۰۱۳م.